اسان اصول فق

پښتو

بسمِ **اللہ** و الحمد للہِ والصلوٰ والسلامُ علیٰ رسول **اللہ**

فهم دین او دهغہ اصول او قواعدو باندِی مشتمل کتابونہ عربئ ژبہ کښی ډیر دی بعض دهغہ پہ درس نظامی کښی شامل دی ،اول اصول الشاشی ،دوم نورالانوار ،سوم حسامی وغیرہ دیہ

او بعض غیر درسی دی لکہ اصول بزدوی وغیرہ،دهغہ اسانولو دپارہ ابتدائی رسالہ اکابرو لیکلی دی ،څه پہ اردو کښی دی او څه پہ عربئ ژبہ کښی دی ،تجربہ نہ ثابتہ دہ چی د فن اسانولو د پارہ داکابرو رسالہ ډیری مفیدی دی خو فائدہ ترینہ اردودان حضرات حاصلوی پختانہ رونړہ ترینہ ازادہ فائدہ نشی حاصلولہ ، دابتدائی خلاصہ خپلہ مورنئ ژبہ کښی ډیرہ فائدہ ورکوی دی وجہ نہ مونږ یاصول فقہ دپارہ مختصر رسالہ لیکلو ارادہ ؤکړہ ، تقبل **اللہ** منّا

مختصر تعارف د اصول فق

پيژندګلود اصول فق:

دا هغ قواعد دی چی د هغ پ ذريع د شرعی دلائلو ن عملی شرعی احکام حاصلولو طريق معلوم شی

موضوع د اصول فق:

موضوع: ادلّ شرعي او احکام شرعي دی پ دی اعتبار سر چی د هغ ن تفصيلی احکام راويستل شی ،او احکام شرعي پ دی اعتبارِ سر چی هغ د ادل شرعي ن راويستل شو وی

مقصود د اصول فق:

د احکامو پ راويستلو کښی د خطا کيدلو ن بچ کيدل ددی وج ن د اصول فق بحثون پ دريو اهمو حصو کښی ذکر دی

1ادل شرعي 2احکام شرعي 3 استنباط(يعنی احکام شرعي د ادل شرعي ن راويستلو طريق)



الحمد للہ□ رب العٰلمین والصلوٰۃ والسلام علیٰ سیدِ المرسلین وعلیٰ آل□ وصحب□□ اجمعینَ□

اول سبق

اصول فق□: دا هغ□ قواعد دی چی د هغ□ پ□ ذریع□ د شرعی دلائلو ن□ عملی شرعی احکام حاصلولو طریق□ معلوم□ شی □

دلائل شرعي□ څلوردی:

1□قرآن پاک 2□سنت نبوی 3□اجماع امت 4□قیاس

تشریح:دشریعت عملی احکامو ت□ فرعی احکام هم وئیل□ شی،او ددی مقابل اصولی یعنی اعتقادی احکام دی خو پ□ هغ□ کښی د قیاس کار نشت□□

دلائل شرعي□ ت□ دلائل تفصيلي□ هُم وائی □

خلاص□:

پس فن اصول فق□ کښی هغ□ قاعدو ن□ بحث کيږی چی د هغ□ پ□ ذريع□ مذکور□ دلائل شرعي□ ن□ عملی احکام راويستلو طريق□ حاصل□ شی □

دعملی احکامو راوباسلو طريق□ ت□ استنباط او استخراج هُم وائی □

دافن د علم فقه□ روح د□ □پس خوړو طالبانو ددی د حصول دپار□ زړ□ اولګوئ او خ□ پ□ محنت سر□ ئی حاصل کړئ !□

دویم سبق

موضوع :ددی فن موضوع دلائل شرعي دی دد حیثیت ن چی هغ د شریعت عملی احکامو ت اورسوی

تشریح:دفن موضوع هغ وی د کوم شی د عوارضۀ ذاتي ن چی پ دغ فن کښی بحث کول شی ،او ذاتی عوارض هغ دی چی دغ شی ت بلاواسط عارض کیږی

غرض وغاي:

ددی فن مقصد ددلائل شرعي ن احکام عملي پیژندل او دَدلائلو ن احکام راویستلو باندی قدرت وی

تشریح:تیر شوو ائم کرامو مجتهدینو د ادل اربع یعنی قرآن،سنت،اجماع او قیاس ن احکام څه رنګ راویستل ،دلیل معلومولو ن بغیر د مجتهدینو پ خبر عمل کول د عوامو وظیف(خاص عمل) د علماء دپار صرف دومر خبر کافی ند بلک علماء ب میش د دلائلو جستجو (لټون)کوی

بل دا چی زمان پمخ بدلون قبلوی نو نوی نوی واقعات راښکار کیږی او د هغی احکام منصوص ندی ،نو دی قسم خبرو کښی د اجتهاد درواز بند ند ،نو ددی فن دویم مقصد حکم معلومولو طریق

ده د دلائل شرعیه نه چې په نؤ نؤ مسائلو کښې چې کله ضرورت پیخ شی .

نو معلومه شوه چې اصول فقه اصول دین دی ددین صحیح بنیاد په ده علم ده.

دریم سبق

البحث الاول کتاب الله

کتاب **الله** نه مراد قرآن پاک ده کوم چې په رسول **الله**ﷺ نازل شوه ده، چې د عثمان رضی **الله** عنه په دور خلافت کښې په صحیفو کښې اولیکله شو ،او لویو لویو طبقو نه مسلسل متواتر منقول ده چې د شک هیخ ځائه پکښې نشته.

تشریح: منقول په نقل متواتر سره وی تواتر نقل د لوه عظیمه جمع دومره ګڼړ خلق ئی نقل کړی چې د دروغو شک بلکل نه وی دی ته تواتر اسنادی وائی .

او چې لویه طبقه ئی نقل کړی او د سند ضرورت هم پاتی نشی دیته تواتر طبقه وائی .

دریم تواتر عملی ،یا تواتر تعامل یا تواتر توازن ده چې په امت کښې یو عمل د مخکښې نه مسلسل راروان وی لکه: 20 رکعات تراویح او دا تواتر د دویم قسم خواؤشا ده یعنی دویم ته نزده ده.

ځلورم تواتر قدر مشترک داده چی څه امور مختلف سنَدونو سره مروی وی۔دهغه د مجموعه نه یو قدر مشترک باندی د ټولو مرویاتو اتفاق د تواتر وی لکه معجزات د نبیﷺ ،او یا لکه عذابِ قبر ،روایات د مختلفو شکلونو د معجزو ،او د مختلف شکلونو د عذابِ قبر دی خو قدر مشترک نفس معجزه او نفس عذاب قبر باندی ئی اتفاق ده۔

الغرض قرآن کریم تواتر طبقهً سرهً منقول ده،قطعی او یقینی بلاریب منقول ده۔هم داد فقه اسلامی اصل ده ددې تعلیمات هر دور د ضروریاتو حل ورکوی ۔

د قرآن هغه آیات چی د فقه اسلامی د احکامو سره ئی تعلق ده پنځه سؤ 500 ته قریب دی ددی آئین اسلامی حاصلولو دپاره د یو څو خبرو پیژندل ضروری دی ۔

مثلًا: ناسخ منسوخ،مجمل مفسر،عام خاص،محکم متشابه، وغیره پیژندل ،نو د اصول فقه والا کتاب او سنت څلور تقسیمه دی چی د هغه نه شل قسمونه جوړیږی۔

خو د یو تقسیم اقسام پخپلو کښی نه جمع کیږی بلکه یو بل ته مخالف وی ،خو د ډیرو تقسیمونو په اقسامو کښی تضاد نشته ۔

د قرآن پاک چه کوم څلور تقسیمه شوی دی پدی کښی د هریو تقسیم په اقسامو کښی تضاد ده۔دا په یو لفظ کښی نشی جمع کیدی۔

خو ددی تقسیماتو پ□ اقسامو کښی څه تخالف نشت□ پ□ یو لفظ کښی خاص،حقیقت،او ظاهر جمع کید□ شی □

څلورم سبق التقسیم الاول

هغ□ معنیٰ چی کوم□ ل□ لفظ وضع شو□ د□ د هغ□ پ□ اعتبارـ د لفظ څلور قسم□ دی□

1□خاص 2□عام 3□مشترک 4□مؤول

تشریح :یعنی لفظ دیو□ معنیٰ دپار□ وضع شو□ د□ یا دډیرو دپار□ بغیر د لحاظ د حقیقت او د مجاز د معنیٰ ن□ او بغیر د لحاظ ددی ن□ چی واضح د□ ک□ خفی□

وج□ حصر:لفظ ب□ یا پ□ یو□ معنیٰ دلالت کوی یا پ□ ډیرو ک□ پ□ یو□ معنیٰ دلالت کوی او یوازی وی نو خاص، او ک□ پ□ یو□ معنیٰ دلالت کوی او نور افراد ورسر□ شریک وی عام،

ک□ پ□ ډیرو معانیو دلالت کوی نو کتل□ ب□ شی ک□ یوی معنیٰ لر□ ئی پ□ تاویل سر□ ترجیح ورکړی د□ او کن□ صورت اول مؤول او صورت ثانی مشترک ،پس مؤول دراصل مشترک د□□

پنځم سبق

خاص: هغ□ لفظ چی تنها معلوم معنی او مصداق د پار□ وضع وی خو دغ□ معنیٰ متعیّن ذات وی لک□:زید یانوع وی لک□:رجل، یا جنس وی لک□: انسان□

تشریح: تنها نہ مراد انفراد او عدم شرکت دے یعنی لفظ پہ یوہ معنیٰ دلالت کوی معنیٰ شخصی لکہ:زید،نوعی لکہ:رجل،جنسی لکہ:انسانہ

یا وحدت اعتباری وی لکہ:هندسہ اربعہ،خمسہ ،ستہ یا نور اکائیات
(زید،رجل،انسان دا مثالونہ د اُصولیانو پہ اعتبار دی د منطق پہ اصطلاح کښی د نوع مثال انسان او د جنس مثال حیوان دے)

د فنِ منطق د جنس، نوعی مدارد اشیاؤ پہ حقیقہ باندی دے نو کہ د ځوافرادو حقیقت یو وی نو نوع او کہ مختلف وی نو جنسہ

او فنِ اصول والو نظر پہ فائدہ او غرض باندی وی کہ متحد الغرض وی نو نوع او کہ مختلف الغرض وی نو جنسہ

نو انسان پہ فنِ اصول کښی جنس دے چی افراد ئی رجلٌ او اِمرئۃٌ اَو دا مختلف الاغراض دی او رجلٌ نوع دہ چی لاندی افراد د زید ،عمرو،بکر دی او دوی متحد الاغراض دی ۔

شپږم سبق

د خاص مثال:قولہ تعالٰی وَالْمُطَلَّقَاتُ یَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَۃَ قُرُوْءٍ دلتہ لفظ د ثلاثہ خاص دَ چی معلوم عدد دریو دپارہ وضع دے نو دقروء **حیض** معنیٰ کول پکار دی چی کلہ پہ طهر کښی طلاق ورکړے شی نو د هغہ عدت بہ پورہ درے حیضہ جوړ شی ۔

تشريح:قروء جمع د قرء ده او مشترک ده حيض او د حيض نه پاکيت دواړه معانی ئی دی او لفظ د ثلاثه خاص ده ، نو وس به قروء مؤول کول غواړی پدی شان چی يوی معنیٰ له ئی په ثه شان ترجيح ورکړو او بله معنیٰ ئی پريږدو، نو دلته قرينه ددی خبری موجود ده چی مونږه د قروء نه د حيض معنی مراد واخلو او قرينه خاص واله د ثلاثه ده چی معنی ئی معين دره دی نه کم او نه سِوا۔

او بله قرينه داده چی د طلاق ورکولو وخت سوره طلاق ړومبی ايه کښی چی طهر زمانه پکار ده ،او پدی د اُمه اجماع هم ده۔

نو چی کله په طهر کښی طلاق ورکړه شی نو عدت به پوره دره حيضه شی ۔

او که د قروءٔ نه مراد طهر واخله لکه چی د امام شافعیه رائی ده نو بيا به عدت پوره دره طهره نشی راتله ،ځکه چی په کوم طهر کښی طلاق ورکړه شوه ده دا به هم پهِ عدت کښی حسابيگی نو طهر به پوره نوی بلکه کَم به وی ۔نو په خاص د کتاب **الله** ثلاثه به عمل ؤنشی ،او چی حيض مراد واخلو نو عدت به پوره راشی ۔

اوؤم سبق **حکم دخاص**

خاص قطعی دليل ده پدی باندی عمل واجب ده ځکه چی خپل مدلول(مادلّ عليه) ته يقينی طور باندی شامل وی ۔

اقسام دخاص

اقسام د خاص ډیر دی خو اصول فق□ د څلورو ن□ بحث کوی□

1□امر 2□نهی 3□مطلق 4□مقیّد

ځکه چی د اکثر احکامو تعلق دی څلورو سر□ د□□ ددی ذکر ب□ شلو اقسامو ذکر کولو ن□ روستو راشی □

تشریح:خاص باندی عمل واجب د□ نو ک□ چر□ خبر واحد یاقیاس د خاص مخالف وی نو ګورو ب□ ک□ پ□ دواړو عمل ممکن وو،او مخالف□ ختمیدو او خاص کښی تغیر تبدیلی ن□ راتل□ ،نو پ□ دواړو ب□ عمل کول□ شی □

اتم سبق

عام:دا هغ□ لفظ د□ چی د افرادو یو جماعت ت□ شامل وی خوا□ لفظًا وی لک□:مُسلمونَ یا معنیً شامل وی لک□: قومٌ ،رهطٌ،مَنْ ،مَا□

تشریح:د معنًی عام معنیٰ داد□ چی لفظًا اګر چی جمع ن□ وی خو معنیٰ ئی عام□ وی □

بیا ددی دو□ صورتون□ دی :

الف:لفظ پ□ پور□ جماعت باندی هم صادق وی او پ□ یو فرد باندی هم صادق وی لک□: مَنْ ،مَا□

ب:لفظ پ□ پور□ جماعت باندی صادق رازی خو کَم ن□ کَم در□ افراد ضروری وی لک□: قَومٌ ،رَهطٌ□

فائد□:د عام معنیٰ هم د خاص پشان یو□ وی خو پ□ وضع کښی د افرادو لحاظ شو□ وی لک□:مسلمٌ،غیر

مسلم او پ خاص کښی د افرادو لحاظ ن وی لک:رجلٌ

فائد:عام او مطلق کښی فرق داد چی عام بیَک وخت د تمامو افرادو دپار وئیل شی او مطلق پ افرادو کښی د یو غیر متعین فرد دپار وئیل شی او بل فرد باندی علیٰ سبیل البدل ویئل شی

یعنی د عام عموم شمولی وی او د مطلق عموم بدلی وی

لک: تحریر رقبٍ کښی رقبٍ مطلق د عام ندٍ ځکه چی مراد تری یو فرد د،او ددی جمع **رقاب** عام د چی مراد تری تمام افراد دی

هغ الفاظ چی د افرادو جماعت ت شامل وی

1**اسم جمع** لک: الناسُ

2**جمع سالم معرف باللام** لک: المسلمونَ

3**جمع معنیً** لک؛ مَنْ،مَا

4**جمع مکسر معرف باللام** لک:الرجالُ

5**اسم اشار چی مشارالی ئی عام وی** لک:هٰذالقومُ

6**اسم موصول چی صل ئی عام وی** لک:الذی نصرَ القومَ

7**اسم چی صفت ئی عام وی** لک:الرجل العالمُ

8۔**منفی په لائه نفی جنس وی** لکه:لاعالِمَ فی البلدِ،(نکره تحت النفی عام وی)

9۔**مضاف الیه د کُلُّ یا جمیعُ** لکه:کل الناسِ۔

10۔**تمام اسماء چی معنیٰ د جمعیت ورکوی** لکه:محشر،عامه،کافه،قاطبه،قومٌ،رهط،جمع، جماعه۔

نهم سبق

عام په دوه قسمه دی

الف:هغه عام چی یو فرد ترینه خاص شوی نوی یعنی په خپل عموم باقی وی ،لکه: ان **الله** بکل شیئ علیمٌ، فاقرءوا ماتیسرَ مِن القرآنِ۔

(د مانځه صحت به په نفس قرائت موقوف وی فاتحه فرض نده بلکه واجب ده)

حکم د عام غیر مخصوص منه البعض

د خاص پشان دلیل قطعی ده عمل پری واجب دی ۔

تشریح:که خبر واحد یا قیاس دده خلاف راشی نو کتله به شی چی که د عام په حکم کښی تبدیلئ نه بغیر په **خبر واحد یا قیاس** باندی عمل ممکن وی نو عمل به پری کوله شی ۔

لکه:حدیث کښی دی لاصلوٰة لمَن لم یقرء بفاتحِة الکتابِ۔

دا حدیث خبر واحد دی او د أیه د عام حکم نه خلاف دی خو تطبیق ممکن دی چی مطلق قراءة فرض شی او فاتحه واجب شی ۔

نو احنافو دغ شان وکړل

او ک تطبيق ممکن ن وو نو بيا ب خبر واحد او قياس پريخود شی او پ عام د کتاب **الل** ب عمل کول شی

لسم سبق

عام مخصوص من البعض

ب: هغ عام چی يو فرد پکښی خاص کړ شو وی لک: واحل **الل** البيع يعنی **الل** بيع حلال کړی د،بيا **الل** فرمائی و حرم الربٰو يعنی سودی بيع ئی حرام کړی د ،دلت پ دی عام کښی د يو فرد تخصيص شو د

حکم: تخصيص ن بعد دعام کوم افراد چی باقی پاتی شی پ هغی عمل واجب د خو دا احتمال باقی وی چی کيد شی باقی نور هم مخصوص شی دی وج ن دا عام ظنی شی ،دخاص پشان قطعی پاتی نشی

تشريح: پس باقی افرادو کښی ک د تخصيص دليل وموند شو نو پ **خبر واحد او قياس** سر هم تخصيص جائز د،تردی چی کَم ن کَم افراد باقی پاتی شی نو بيا تخصيص جائز ند

نو عام د جمع صيغ وی نو کَم ن کَم افراد ئی دری[3] دی او ک اسم جنس وی نو يو [1] د

يوؤلسم سبق

مخصِص معلوم او مجهول

مخصِص مجهول مثال :احل **الل** البيع و حرم الربٰو

مخصِص معروف مثال :اُقتلوا المشركين ولا تقتلوا اهل الذمِ چی امیر جهاد حکم وکړی چی مشرکین وژنئ او اهل الذم□ ب□ ن□ وژنئ دلت□ اهل الذم□ مخصص معلوم د□□

تشريح:وحرم الربٰو د ربٰو معنیٰ زیادتی د□ او زیادتی پ□ هر□ بیع□ کښی وی نو دلت□ د ربٰو ن□ مراد کوم□ زیادتی د□ دا خبر□ واضح□ ند□ ،نو وضاحت ئی پ□ حدیث کښی راغل□ د□،چی سر□ زر ،سپین زر،غنم،وربش□،کهجور□ او مالګ□ چی بیع ئی د خپل جنس سر□ وی نو سر پ□ سر او لاس پ□ لاس پکار د□ ک□ کم□ بیش□ وی یا یو عوض ادهار وی نو سود ب□ وی ،او ک□ خلاف جنس سر□ وی نو کم□ بیشی جائز خو ادهارـ حرام د□□

دؤلسم سبق

مشترک: هغ□ لفظ چی کوم دو□ یا دوؤ ن□ زیات داسی معانیو د پار□ وضع شو□ وی چی د هغ□ حقیقتون□ او ماهیتون□ مختلف وی □لک□:**جاري**□ ددی معنیٰ وینز□ او کشتئ دواړ□ دی ،**المشتری** د یو ستوری نوم هم د□ او خریدار ت□ هم وائی □دغ□ شان **عين،قرء** الفاظ مشترک□ دی □

تشريح: عام او مشترک کښی فرق داد□ چی دعام وضع یو□ پیر□ شوی وی او د مشترک وضع بیا بیا شوی وی ،او عام پ□ مدلول کښی تعداد خو وی خو حصر ن□ وی او د مشترک مدلول محصور وی ،دعام افرادـ ټول بیَک وخت مراد کول□ شی او د مشترک ن□ پ□ یو وخت صرف یو□ معنیٰ اخستل□ شی □

دلفظ د مشترک کیدو وجوهات

1□یو قوم ئی یو□ معنیٰ دپار□ وضع کړی او بل ئی د بل□ دپار□،یا یو قوم ئی یو زمان□ کښی د یوی معنیٰ د پار□ وضع کړی او بل□ زمان□ کښی ئی دغ□ قوم د بل□ معنیٰ دپار□ وضع کړی □

2□د لفظ یو□ معنیٰ حقیقی وی او بل□ مجازی وی د مجاز د کثرت استعمال د وج□ ن□ پ□ منزل□ د حقیقت شی □

3□دوؤ معانو کښی داسی مناسبت وو چی لفظ دواړو معانیو دپار□ موضوع فهم کړ□ شو□

دیارلسم سبق

حکم د مشترک

د مشترک چی کل□ یو□ معنیٰ مراد شی نو بیا بل□ نشی مراد کید□□لک□:د قرء ن□ چی کل□ حیض مراد شی بیا طهر نشی مراد کید□ □

تشریح:قرء حیض او طهر دواړو پ□ معنیٰ د□ احنافو د یو ځو قرائنو د وج□ ن□ حیض مراد اغستل□ د□ □ قرائن دادی□

1□دعدت مقصد فراغت د رحم پژندل دی او داد حیض ن□ معلومیږی،

2□حدیث کښی د وینز□ عدت دو□ حیض□ راغل□ د□ □

3□دحیض ن□ مایوسئ پ□ وخت کښی بیا عدت دری میاشتی د□□

4ـحیض مراد کولو کښی احتیاط دہ عدت بہ یقینی پورہ شی ،ځکه طهر مراد کولو پہ صورت کښی دا آخری حیض بہ عدت کښی شامل نشی او عدت بہ ددینہ مخکښی پورہ شی ،او د احتیاط صورت بہر حال اولیٰ دہ۔

څوارلسم سبق

مؤول :کلہ چی د مشترک نہ یوہ معنیٰ پہ ظن غالب سرہ واغستلہ شی یعنی ترجیح ورلہ ورکړہ شی دیتہ مؤول وائی ۔

لکہ:احنافو چی د مختلفو قرینو پہ بنیاد باندی د قروء معنیٰ حیض متعین کړہ دہ نو قروء تہ وس مؤول وئیلہ شی ۔

حکم د مؤول:سرہ د خطرہ د خطائئ نہ پہ مؤول عمل کول واجب دی ۔

تشریح:1ہکچرہ د لفظ مشترک یوہ معنیٰ پخپلہ د متکلم د بیان نہ معلومہ شوی وی نو بیا دا **مفسَّر** دہ مؤول ندہ

2ہمؤول د تاویل نہ د اسم مفعول صیغہ دہ دیوہ خبرہ مطلب د څه اندازی نہ معلومول د ظن او احتمال پہ درجہ کښی وی قطعی او یقینی نہ وی ۔

3ہ**وجوہ ترجیح او قرائن بطور مثال دادی** :

الف:سیاق سباق کښی قرینہ یا علامہ اومندل شی ،**ب:** عقلی قرینہ،**ج:** خارجی قرینہ،**د:**د محل کلام تقاضاہ

مثلًا: پ□ یو علم کښی یو لفظ خاص مفهوم لری نو هُم هغ□ مفهوم ب□ اراد□ کول□ شی ،د قرین□ ن□ بغیر ب□ لغوی معنیٰ نشی مراد کید□□

تشریح د حکم د مؤول: چی سر□ د خطر□ د خطائئ ن□ پ□ مؤول عمل کول واجب دی □

لک□: د قروء معنیٰ چی کل□ حیض متعین□ شو□ نو اوس عدت پ□ حیض سر□ تیرول واجب دی سر□ ددی احتمال ن□ چی کید□ شی طهر معنیٰ باندی وی □اوحیض صحیح نوی □

او پ□ مفسر باندی یقینی طور عمل واجب د□ ځکه چی ددی د معنیٰ تعین پخپل□ متکلم کړ□ د□ نو د خطا احتمال پاتی نشو□

پنځلسم سبق

دویم تقسیم پ□ اعتبار د استعمال باندی :

د لفظ استعمال پ□ معنیٰ موضوع ل□ کښی وی او ک□ غیر موضوع ل□ کښی پدی اعتبار□ سر□ د لفظ دو□ قسم□ دی □**حقیقت،مجاز□**

بیا پدی اعتبار چی د لفظ مراد واضح د□ ک□ غیر واضح پدی اعتبار هم دو□ قسم□ دی □
صریح ،کنای□□

نو حقیقت سر□ صریح او کنای□ جمع کید□ شی او دغ□ رنګ مجاز سر□ هم صریح او کنای□ جمع کید□ شی □

1□حقیقت:دا هغ□ لفظ د□ چی د هغ□ ن□ د هغ□ معنیٰ موضوع ل□ مراد کړ□ شوی وی □لک□:شیر د

درند□ پ□ معنیٰ او مونځ د مخصوص عبادت پ□ معنیٰ□

حکم د حقیقت:د لفظ حقیقی معنیٰ ب□ بهر حال ثابت□ وی خوا□ خاص وی یا عام□

تشریح:حقیقت بروزن فعیل□ د□ د حقٌ ن□ ماخوذ د□□معنیٰ ئی د□ **ثابتیدل**□د وضع معنیٰ داد□ چ□ د یو لفظ د یو□ معنیٰ دپار□ تعین وشی او بغیر د قرین□ ن□ فهم شی □

بیا دا تعین ک□ د اهل زبان د طرفن□ وی نو **وضع لغوی** او ک□ د شریع□ د طرفن□ وی نو **وضع شرعی** او ک□ د مخصوص قوم فقهاء،صرفیانو،نحویانو،صوفیاء دطرفن□ وی نو **وضع عرف خاص** او ک□ ن□ وی نو بیا **وضع عرف عام**□

حکم: د لفظ حقیقی معنیٰ ب□ بهرحال ثابت□ وی یعنی د قرین□ یا نیت ضرورت ب□ ن□ وی □او حقیقت او مجاز د عام او خاص سر□ جمع کید□ شی□

شپاړسم سبق

المجاز:هغ□ لفظ د□ چی د هغ□ ن□ معنیٰ موضوع ل□ مراد ن□ وی□بلک□ څه بل□ معنیٰ مراد کړ□ شوی وی □او د معنیٰ حقیقی او مجازی مابین کښی څه مناسبت موند□ شی □**لک□ د شیر ن□ بهادرسړ□ مراد کول**□

حکم د مجاز:د لفظ ن□ چی کوم□ معنیٰ موضوع ل□ مراد کړ□ شو□ د□ هغ□ ب□ ثابت□ وی،برابر□ د□ ک□ دغ□ معنیٰ خاص وی او ک□ عام□

تشریح:مَجاز د میم د **زبر** سر مصدر میمی د معنیٰ ئی د فاصل وهل ،لار وهل**جاز الطریقَ** لارئی ووهل او مجاز هم د حیقیقی معنیٰ مخ ت لاړ شی دی وج ورت مجاز وائی

مجاز صرف پ مفرد کښی ن وی بلک پ مرکبات او جُمَلو کښی هم وی د محاوراتو او ضرب الامثال استعمال هم بطور مجاز وی

مُجاز د میم پیش سر د اسم مفعول صیغ د پ معنیٰ د اجازت ورکړ شوی لک د یو شیخ مُجاز وی عام طورنور دا،

خلیف مَجاز وئیل شی خودا خلیف مُجاز د

بل تشریح د حکم دمجاز:چی مجازی معنی ب ثابت وی نو د مجازی معنیٰ تحقق پ دوؤ شرطونو موقوف د **1**نیت **2**مناسبت۔چی د معنی موضوع ل او غیر موضوع ل مابین مناسبت وی نو ک څوک خپل ځځی ت اووئی چی ت آسمان ئی ،یا ت ځناور ئی او معنی د طلاق ئی مراد کړ نو طلاق ب ن واقع کیږی

اؤولسم سبق

الصریح والکنای

الصریح:دا هغ لفظ د چی مراد ئی ظاهر وی یعنی د لفظ اوریدو سر مراد فهم شی لک:د بائع وئیل**بعتُ** ما خرخ کړی او د مشتری **اشتریتُ** مااخیستی دا دواړ لفظون صریح دی

حکم د صریح:معنیٰ ئی خود بخود ثابت وی د نیت حاجت ورل نشت لک چی ثوک خځی ت اووئی چی ت طلاقۀ ئی نو دلت بغیر د نیت ن هم طلاق واقع شو

کنای:هغ لفظ چی د هغ معنیٰ بغیر د قرین ن ذهن ت ن رازی لک خاوند خپلی خځی ت وائی **انتِ بائن** ت جدا ئی

حکم د کنای:معنیٰ ب ئی هل ثابت وی چی نیت اوموندل شی یا دلالت حال اوموندل شی ،یعنی د طلاق ګفتګو وی یا د غص حالت وی او طلاق کنای الفاظ استعمال شی نو دلت ب بلا نیت هم طلاق واقع وی دلالت حال ب د نیت قائم مقام شی

اتلسم سبق

التقسیم الثالث باعتبار ظهور المعنیٰ وخَفائ

معنیٰ واضح پ اعتبار سر لفظ پ ثلور قسم د :1الظاهر 2النص 3المفسر 4 المحکمۀ

پوشیدګی او ابهام پ اعتبار سر هم د لفظ ثلور قسم دی 1خفی 2مشکل 3مجمل 4متشابه

پس دا قسمون یو بل ت متقابل دی

تشریح:ړومبی **ثلور قسم** د ظهور مراتب او درج دی دی وج ددی خپلو کښی تقابل نشت

او دویم **ثلور قسم** د دپټوالی مراتب او درج دی دی وج ددی خپلو کښی هم تقابل نشت

بلک□ د اول **څلور قسم□** مقابل دوئم **څلور قسم□** دی□

د **ظاهر** مقابل **خفی** د **نص** مقابل **مشکل** د **مفسر** مقابل **مجمل** او د **محکم** مقابل **متشابه□**

نولسم سبق

الظاهر: دا هغ□ لفظ د□ چی معنیٰ مراد□ ئی د لفظ ن□ سامع فهم کړی د غور ضرورت ن□ وی ،البت□ ددغ□ لفظ ن□ ثابت حکم د کلام مقصود ن□ وی□لک□: **و احل الل□ البیع وحرم الربوٰ** ددی آیت مقصود فرق بیانول دی د بیع او ربوٰ خو ورسر□ دا هم معلوم□ شو□ چی بیع جائز د□ او سود ناجائز د□ □نو دی اعتبارـ سر□ دا ظاهر د□ □

دظاهر حکم: پدی باندی عمل واجب د□ او پدی سر□ حدود او کفارات هم ثابت کید□ شی □او ظاهر د خاص او عام سر□ جمع کید□ شی البت□ د نسخ احتمال پکښی شت□ □خو دغ□ احتمال هم ب□ دلیل□(***ناشی من غیر دلیل***) د□ دی وج□ ددی اعتبار ن□ وی □

نص:هغ□ کلام د□ چی د مقصود دپار□ راوړ□ شی خوا□ خاص وی او ک□ عام□لک□: **و احل الل□ البیع وحرم الربوٰ** داکلام د تجارت او سود مابین فرق دپار□ راغل□ د□ نو دی معنیٰ پ□ اعتبار سر□ دا ای□ نص د□□

دنص حکم:چی کوم□ خبر□ د نص ن□ فهم شی پ□ هغ□ عمل واجب د□ خوا خاص وی ک□ عام □البت□ پدی کښی هم د نسخ،تاویل او تخصیص احتمال وی

خو دغ احتمال هم ب دلیل(ناشی من غیر دلیل) د دی وج ددی اعتبار ن وی

تشریح:نص د ظاهر ن زیات واضح وی ځکه چی د مقصود د کلام وی دی وج ن بوقت تعارض ب نص لر ترجیح ورکول شی لک:ارشاد پاک د:**فانکحوا ،ماطاب لکم من النساء مثنیٰ وثلٰثَ ورُباع الای**ددی ای مقصد داد چی څلورو پوری نکاح کولو اجازت د

او بل ځائ ارشاد د:**واُحل لکم ماوراء ذالکم** ددی ظاهر داد چی محرمات ن علاو ټولی ښځی حلالی دی هر څومر نکاحون چی کو اجازت د نو دنص او ظاهر تعارض راغ **نص** ل ب ترجیح ورکول شی او بیک وخت صرف څلور نکاحون جائز دی

شلم سبق

مفسر: دا هغ کلام د چی مراد ئی د متکلم د طرفن پ وضاحت راتلو سر داسی واضح شی چی پ کښی د تاویل او تخصیص احتمال پاتی

نشی لک:**فسجد الملٰئک کلهم اجمعونُ**

د مفسر حکم:پدی عمل کول قطعی طورواجب دی پدی کښی د تاویل هیڅ احتمال معتبر ندالبت د نبی د حیات طیب پوری پدی کښی د نسخ احتمال وو

تشریح:بعض الفاظ د خپل وضع پ اعتبار د تاویل یا تخصیص احتمال ن لری لک:**اعداد**

او بعضو کښی ددی دواړو ګنجائش وی داسی الفاظ کل عام وی او کل خاص وی ک عام وی نو قید پکښی لګوی چی د تخصیص احتمال ختم شی لک: **فسجد الملئکۃُ** عام د نو **کلهم** قید سر ئی د تخصیص احتمال ختم شو

او کل داسی الفاظ مجمل وی چی وضاحت وکړ شی نو د تاویل احتمال ختم شی لک:**اجمعونَ** فرمائلو سر دا احتمال ختم شو چی سجد ب ئی جدا جدا کړی وی او دا متعین شو چی ټولو پ یوځائ کړی د نو دا کلام **مفسر** شو

د مفسر حکم:چی پ هغ عمل کول قطعی د واجب العمل د خو ک د **مفسر او نص** تعارض راغ نو مفسر لر ب ترجیح وی ،خو نصوصو کښی داسی قسم تعارض مثال نشت

یویشتم سبق

المحکم:دا هغ کلام د چی نهایت درج واضح وی د مفسر ن هم وضاحت کښی زیات وی او پدی کښی د تاویل یا تخصیص یا نسخی قطعًا احتمال ن وی لک: **ان الل بکل شیئ علیم ، یا ان الل لایظلم الناس شیئًا**ځکه چی ددی قسم آیتونو تعلق د عقائدو سر د چی پدی کښی د نسخ بلکل احتمال ن وی

حکم د محکم:پدی باندی عمل واجب د اواعتقاد لرل پری فرض دی

تشریح:کچری عبارت کښی ابدیت میشګیری باندی دلالت وی ،یا د مضمون تعلق عقائدو یا

داصول اخلاق سر وی یا پ هغ کښی څه خبر ورکړ شو وی نو پدی کښی د نسخ احتمال ن وی

دغ شان د رسول الل د تشریف وړلو ن بعد ظاهر ،نص،مفسر ټولو ن د نسخ احتمال ختم شو د

کچر د مفسر او محکم مابین تعارض وی نو محکم لر ب ترجیح وی لک:سور طلاق ای
د:**واشهدوا ذوی عدل منکم** الای د مفسر د ددی ای تقاضا داد چی د محدود فی القذف د توب ن وروستو شهاد قبول شی ځکه چی توب سر ګنا معاف کیګی

او د سور نور آی د **ولاتقبلوا لهم شهاد ابدًا** دا آی محکم د ځکه دی کښی د ابدیت قید د نو دی لر ب ترجیح وی او د توب ن بعد ب هم د محدود فی القذف شهاد مقبول ن وی

دویشتم سبق

مقابلات ددی مذکور اقسامو

ددی مذکور قسمونو بالمقابل نور قسمون دی

1**خفی:**هغ لفظ چی معنیٰ ئی ظاهر وی خو د بل وجه ن پکښی خفاء راغلی وی
لک:سورمائد آی د: **السارق والسارق فاقطعوا ایدیهما** دا آی د غل پ حق کښی ظاهر د خو د کفن کَخ او جیب تراش پ حق کښی خفی د

سارق هغ□ غل د□ چی د چا محفوظ مال پ□ پټ□ غلا کړی ،دغلا دا مفهوم د کفن کخ او جیب تراش بار□ کښی غیر واضح د□ □

نو اوس پدی دواړو د سارق قول کید□ شی او کن□؟ داخبر□ غیر واضح□ د□□ کفن چور کښی د معنیٰ کم□ د□ او جیب تراش بار□ کښی زیاټ□ د□□

اول محفوظ مال ن□ پټوی ،او دویم غلا ن□ کوی بلک□ د سړی د مخ□ ن□ ش□ پ□ چل ول اخلی□

د خفی حکم:پ□ لفظ کښی غور وکړ□ شی چی پوشیدګی ئی لری شی نو ک□ پ□ لفظ کښی د ظآهر معنیٰ ن□ زیادت اوموندل شی لک□:جیب تراش نو د ظاهر حکم ب□ جاری وی او ک□ پ□ معنیٰ کښی کم□ وی لک□ کفن چور نو بیا ب□ پری د ظاهر حکم ن□ لګی □

درویشتم سبق

مشکل او حکم د مشکل

مشکل هغ□ لفظ د□ چی پوشیدګئ او خفاء کښی د خفی ن□ تیز وی یعنی کافی غور وفکرـ ن□ بغیر پوشیدګی ن□ لری کیګی □لک□: یو سړ□ قسم اوخری چی سالن ب□ ن□ خوری□سالن هغ□ ش□ د□ چی ډوډئ ورسر□ ازاد□ تیریګی او رنګین□ شی ورسر□ ،حدیث کښی دی **نعم الادام الخلُّ** سرک□ ب□ترین سالن د□ □

غوخ□ ،اګئ او پنیر کښی شک د□ چی دا سالن د□ او کن□؟ ځکه چی ډوډئ پدی باندی هم ازاد□ تیریګی او رنګین□ کیږی پری خو نوړئ پری لوندیګی ن□□نو سالن د□ خو لاوڼ ند□ د ادام خپل□ ترجم□ لاوڼ د□ چی ډوډئ پکښی خوشتیګی□

دمشکل یو څونور مثالون□

داآی□ **فاتوا حرثکم انیٰ شئتم** پدی کښی انیّ مشترک د□ □پ□ معنیٰ د **اَینَ** هم رازی د **متیٰ** هم او د **کیف** هم ددی وجه□ ن□ پ□ مراد کښی شک او اشکال د□□

بل آی□ واِن کُنتم جُنُبًا فاطّهّرواغسل جنابت کښی د مبالغ□ حکم د□□ او پ□ د□ اتفاق د□ چی آی□ ظاهر بدن پ□ حق کښی واضح د□ ،او باطن وینځل ساقط دی خو د خُل□ او پوز□ پ□ حق کښی تردد د□ ځکه دا من وجٍ ظاهر دی لکٍ:چی څه ش□ خل□ ت□ ددن□ شی نو روژ□ ن□ ماتیګی او من وجٍ باطن دی لک□:چی توکاڼو(لاړو)تیرولو سر□ هم روژ□ ن□ ماتیګی □

نو غسل جنابت کښی مضمض□ او استنشاق فرض د□ کن□ دی کښي اشکال د□ □

حکم د مشکل:ددی مراد غور او خوض ن□ بغیر نشی واضح کید□ ،لهذا غور وفکر کول واجب دی د□ پوری چی معنیٰ مراد□ واضح شی □پس ادام کښی غور وخوض داد□ چی اګئ او پنیر سر□ ډوډئ رنګین□

کیګی ن،نو دا څیزونو خوړلو سر بہ قسم ن ماتیګی

خو امام **محمد** د عرف اعتبارـ کوی کوم شی سر چی ډوډئ خوړل شی ،نو ک چا مذکور اشیاء سر ډوډئ اوخوړ نو قسم ئی مات شو،او هم دا مفتیٰ بہ قول د (شامی) او **حرث** فصل ت پټی ت وائی دی معنیٰ کښی غور کولو ن معلوم شو چی اَنّٰی پہ معنیٰ د کیف سر د د اَینَ ند ځکه چی روستو محل د حرث ند بلک د فرث(ګندګئ) د

او غسل جنابت کښی چی د مبالغ کوم معنیٰ د **فاطهرو** ن فهم شو د دی کښی اختلاف د :

امام ملک دلک د بدن اغست د او دلک ت فرض وائی او **احناف** مضمض او استنشاق ت فرض وائی

څلوریشتم سبق

المجمل وحکم

مجمل: (مبهم او غیر واضح)هغ لفظ د چی پوشیدګئ او پټوالی کښي د مشکل ن ډیر زیات وی (ډیر غیر واضح) وی پدی وج چی پدی کښی ډیر احتمالات وی پہ دی کښی دومر ډیر پټوال وی چی د متکلم او شارع د بیان(وضاحت(ن بغیر خفاء ن

لره کیږی هر ځومره که غور وکړه شی خو فائده نه ورکوئ،لکه:**وحرم الربوٰ** ۔

تشریح:ظاهره ده چی د خرید وفروخت معنیٰ خو د ګټه او زیادتی مراد ده او بیع جائز ده نو دلته د **الربوٰ** نه کومه ګټه او نفع مراد ده دا په غور سره نه معلومیګی ،پخپله د شارع دطرفنه وضاحت ضروری ده ۔

نو **شارع** د اشیاء ستّه په ذریعه په حدیث پاک سره وضاحت وکوه

حکم دمجمل:پدی باندی عمل ممکن نده تر کومه چی شارع پخپله وضاحت نه وی کړه،لهذا ددی د برحق کیدو اعتقاد لازمی ده او دبیان انتظار به کوله شی چی د شارع د طرفنه بیان راشی بیا په پری عمل کوله شی ۔

پنځویشتم سبق

متشابه او د متشابه حکم

متشابه هغه لفظ ده چی په خفاء کښی د مجمل نه هم زیات وی ،او د هغه مراد معلومول ممکن نه وی ،په هیڅ حال د وضاحت صورت نه وی ۔

متشابهات په دوه قسمه دی :

1۔هغه چی معنیٰ ئی بلکل معلومه نه وی لکه:حروف مقطعات(الم،المص وغیره)

2۔هغه چی معنیٰ ئی ازروئه لغه معلومه وی خو معنیٰ مراده معلومولو ئی هیڅ صورت نه وی ،لکه:

د **اللہ** پاک صفات متشابهات(د **اللہ** لاس،د **اللہ** مخ،د **اللہ** پنډئ وغیرہ)ددی صفاتو ظاهری کیفیت مراد کولہ نشی او حقیقی معنیٰ پیژندلو او کیفیت معلومولو هیڅ لار نشتہ۔

حکم د متشابه:دادہ چی څه مراد برحق وی پہ هغہ بہ ئی ایمان لرو او معنیٰ معلومولو نہ بہ منع کولہ شی دعقل نہ بہ کار نہ اخلی۔

مثلًا دا ایمان بہ لری چی داصفات د **اللہ** پاک دپارہ ثابت دی پاتی داخبرہ چی دغہ صفات څنګه دی ،دا **اللہ** تعالیٰ تہ حوالہ کولہ شی چی صرف **اللہ** پاک پدی عالم دہ۔

شپږیشتم سبق

څلورم تقسیم د دلالت پہ اعتبار سرہ

پہ حکم باندی دلالت کولو پہ اعتبارـ د لفظ څلور قسمہ دی ۔

1۔عبارۃ النص 2۔اشارۃ النص 3۔دلالۃ النص 4۔اقتضاء النص: ددی نہ مراد عین نص نہ دلیل نیولو اقسام مراد دی هغہ نص ندہ مراد کوم چی سوم قسم کښی تیر شو ظاهر ،نص ،مفسر وغیرہ۔

1۔عبارۃ النص :داهغہ دہ کوم شی دپارہ چی کلام راوړہ شوی وی او کوم شہ چی دعبارت مقصود وی۔سورۃ بقرۃ کښی د **اللہ** پاک ارشاد دہ:**وعلی المولود لہ رزقهن وکسوتهن** ددی

آی مقصود د پئ ورکونکو زنانؤ دپار وجوب د نفق بیان د نو دی خبر کښی دا آی عبار النص د

تشریح:دپئ ورکونک مور نفق ک چر پدی وج واجب وی چی دا د بچی د پلار ٟبر د نو ظاهر د چی د ځځی نفق واجب وی

او ک وجوب پ دی وج وی چی داپئ ورکوی نو بیا دامور مطلق داو دنفق وجوب د محض پیو ورکولو پ وج د

حکم دعبار النص:چ کوم حکم پدی ثابت وی پ هغ قطعی طور عمل واجب د

اوویشتم سبق

اشار النص او دهغ حکم

اشار النص هغ خبر د چی د نص ن ثابت وی خو کلام د هغ دپار ن وی راوړل شو نو هغ خبر فهم یو دم ن رازی بلک د هغ دفهم دپار د غور خوض او فکر ضرورت د لک: **وعلی المولود ل رزقهن وکسوتهن** د المولود ل کښی دی طرفت اشار د چی نسب دپلار ن ثابت وی خو دادعبار مقصود هم ند او کلام دی دپار هم ند راوړ شو او اوّل وهلت کښی داخبر زر فهم ت هم ن رازی پس دی کښی دا آی اشار النص شو

تشریح:دآی ن داخبر داسی فهم شو چی مولود (پیدا شو)اسم مفعول د او لـ لام د اختصاص

دپار د یعنی خاص هغ شخص چا دپار چی بچ زیګول شو وی ،نو معلوم شو چی پلار دی نسبت سر خاص کړ شو ددی وجه ن د بچی نسب ب دپلار ن ثابت وی

حکم داشار النص:چی کوم خبر پدی باندی ثابت شی پ هغ قطعی طور عمل واجب د خو دتعارض پ وخت ب عبار النص لر ترجیح وی ځکه چی عبار النص مقصود وی او دا مقصود دکلام ن وی

تشریح:یو طویل حدیث کښی دی چی خځه نیم زمان ناست وی ن مونځ کوی او ن روژ نیسی دین اشار داخبر معلوم شو چی د حیض اکثر مد پنځلس ورزی دی او هم دا مذهب د **امام شافع** د

خو بل حدیث د چی کم ن کم حیض در ورز د او زیات ن زیات لس ورزی ،دا حدیث د شپږو صحابؤ ن مروی د اګر چی د هر یو پ سند کښی کلام د خو مجموع **حسن لغیر** د او دا عبار النص د پس دی لر ب ترجیح وی او دا د**حنفی** مسلک د

اتویشتم سبق

دلال النص او د هغ حکم

دلال النص:دا هغ خبر د چی عبار مذکور د حکم د علت ن فهم شی او د اجتهاد او استنباط پ

طور نوی فهم شوی بلک لغۃً د ژب پ ذریع سرۃً فهم شیلک: **فَلا تقُل لهما اُفٍّ** یعنی مور او پلار ت هوں هم م کوئ نو وخل او کنځل د مور او پلار حرام شو دا خبر ددی آی ن معلوم شو ځکه چی د هوں وئیلو د ممانعت وج او علت تکلیف رسول دی او داعلت هر صاحب زبان پیژنی نو هم ددی علت پ وج د وهلو او کنځلو حرمت ثابت شو

تشریح:دلال النص او قیاس کښی فرق دا چی دلال النص کښی عل د ژب دوج ن معلوم شی او قیاس کښی د اجتهاد دوج ن مجتهد غور فکر سر علت معلوم کړی صرف اهل زبان د هغ ادراک نشی کولدی وج ن قیاس ظنی د او دلال النص قطعی د

حکم ددلال النص:کوم خبر چی ددلال النص ن ثابت شی پ هغ باندی قطعی طور عمل واجب د او دلال النص کښی د مذکور حکم علت عام وی نو دلال النص سر ثابت شو حکم ب هم عام وی

تشریح:لک چی د مذکور حکم علت د والدینو ن تکلیف دفع کول دی او دا علت عام د پس چرت چی هم دا علت موندل شی نو هغ کار ب حرام وی لک د والدینو وهل یا کنځل کول والدینو ن بطور کرای خدمت اخستل والدین دخپل قرض پ وج قید کول د والدینو ن قصاص اخستل او پ قصاص کښی قتلول وغیر دا ټول کارون حرام دی

یوکم دیرشم
اقتضاء النص او دهغه حکم

د اقتضاء معنیٰ ده غوښتل او غوښتونکی ته مقتضِی وائی او غوښتلی شوی شی ته مقتضیٰ وائی یعنی سوا کړه شوه خبر نو اقتضاء النص په نص کښی دزیادتی نوم ده داسی زیادت چی دهغه نه بغیر کلام نه ټهیک کیګی او د هغه نه بغیر په نص باندی عمل هم ممکن نه وی ۔

لکه:خاوند خځی ته وائی چی انتِ طالقٌ نو داخبرهٔ دطلاق ثبوت غواړی چی طلاق دی ثابت شی ۔

او په حدیث کښی دی چی رُفِعَ عن امتی الخطاُ والنسیانُ او حال داده چی د امت نه هیر او خطا رازی نو په حدیث کښی حکم لفظ سوا کول ضروری دی یعنی د خطائی او دهیر ګناه تری پورته کړه شوه ده۔

او تحریر رقبهٍ سره دمملوکٍ لفظ سوا کول ضروری دی ۔

تشریح:کله کله دنص په اقتضاء سره دبل نص ضرورت وی چی مقدر اومنله شی ،لکه یو سړه د اذان نه بعد د مسجد نه اووتلو نو ابوهریره رضی **الله** عنهٗ اُفرمائیل اما هذا فقد عصیٰ اباالقاسمِ ـُ (رواه مسلم)،او حال داده چی داسی حدیث نشته چی په هغه کښی حضوره خروج منع کړه وی ،نو

ددی قول پ اقتضاء سر ب داسی نص مقدر اومنل شی

یا لک حضرت عمار ابن یاسر رضی **الل** عنُــ فرمائی من صام الیوم الذی یشک فی فقد عصیٰ اباالقاسم (روا مسلم)

دلت هم داسی نص موجود نشت چی پ هغ سر حضور د یوم الشک د روژ ن منع کړی وی خو ددی قول پ اقتضاء سر ب داسی نص مقدر منل ضروری وی

حکم داقتضاء النص:دلت مقتضیٰ ضرورۃً ثابت وی نو ددی وج ن ب بقدر ضرورت مقدر منل شی نو انت طالق کښی د دریو طلاقو نیت صحیح ند

تشریح:طالق صیغ د صفت د یعنی اسم فاعل د او مشتق پ مشتق من باندی دلالت کوی لک چی فعل پ مصدر دلالت کوی نو د طالقٌ پ تقاضا سر ب دلت طلاقًا منل کیګی ،نو د دریو طلاقو نیت صحیح ند ځکه ضرورت پ یو طلاق سر پور شود انت طالق د صحت دپار یو طلاق منل کافی دی

دیرشم سبق

د شلو اقسامو د متعلقاتو بیان

د کتاب **الل** او سنّت رسول د شلو اقسامو ن فراغت وشو اوس دهغ دمتعلقاتو تذکر شروع کوؤ

دامر اونهی بیان دخاص پ□ اقسامو کښی امر اونهی هم دی،دامر او نهی صیغ□ خاص دی یو خاص معنیٰ دپار□ وضع شوی دی چی طلب فعل د□ یا طلب عدم فعل د□ □

امر:د امر لغوی معنیٰ د□"دپورت□ کس بل ت□ وئیل چی دا کار وک□"او اصطلاح کښی امر پ□ بل باندی کار لازم کول ،یعنیٰ جزم سر□ دچا ن□ دیو کار طلب کول لک□: ارشاد پاک د□:**واقیموا الصلو□ واٰتوا الزکو□□**

تشریح: نصوصو کښی کل□ حکم د امر صیغ□ سر□ ورکول□ شی لک□: **اقیموا الدین**(شوریٰ)□

او کل□ جمل□ خبری□ وی خو انشاء لر□ متضمن وی یعنی مقصود تری مطالب□ و ی□لک□: **لا ایمان لمن لامان□ ل□** مقصود داد□ چی امانتداری اختیار ک□!

دامر حکم:امر مطلق یعنی د قرین□ د وجوب یا عدم وجوب ن□ خالی وی نو دد□ مقتضیٰ وجوب وی □هاں ک□ قرین□ او نخ□ د دی خلاف وی لک□ اباح□ یا استحباب وغیر□ نو بیا ب□ حکم هم هغ□ وی کوم چی د قرین□ د□□

تشریح:امر کښی اصل وجوب د□ او ک□ قرین□ موجود□ شی نو بیا دجواز او اباح□ دپار□ وی لک□: **کُلوا واشرَبوا** خوراک او څښاک طبعی افعال دی ددین□ انسان مستغنی نشی کید□ ددی واجب کول ب□

معنیٰ دی □داددۍ خبری قرین□ د□ چی دلت□ امر د اباح□ دپار□ د□□

نهی: منع کول ،لغۃً ځان پورت□ ګڼړل او چا ت□ ویئل چی دا کار م□ کو□□اصطلاحًا پ□ چا کار ن□ کول لازم کول□

یعنی نهی هغ□ خاص لفظ د□ چی د هغ□ پ□ ذریع□ څوک جزم سر□ دیو کار ن□ منع وکړی لک□:
ولاتقربوا الزنا یعنی د زنا خوات□ هم م□ زئی□

تشریح:ممانع□ دپار□ کل□ کل□ صیغ□ دنهی استعمال شی لک□:**وذروا البیع** یعنی بعد اذان خرید وفروخت پریږدئ □

کل□ لفظ دنهی سر□ ممانع□ شو□ وی لک□:**وینهٰی عن الفحشاء والمنکر** یعنیٰ **الل□** تعالیٰ د ښکار□ بدئ ن□ او مطلق بدئ ن□ منع کوی□

کل□ د تحریم لفظ استعمال شی لک□:**حرمت علیکم المیت□□**

کل□ د حلت نفی کول□ شی لک□:**ولاتحل لکم ان تاخذوا مما اٰتیتموهن شیئًا□**

حکم دنهی: دمطلق نهی مقتضیٰ لازمًا باز ګرزیدل دی□ هاں ک□ قرین□ او نخ□ د دی خلاف وی ل□ اباحت یا استحباب وغیر□ نو بیا ب□ حکم هم هغ□ وی کوم چی د قرین□ د□□

تشريح: دنهى اصل حکم حرمت دہ خو کہ قرينہ وى نو بيا د کراہۍ دپارہ هم وى لکہ: **اذا نودى للصلوۃ من يوم الجمعۃ فاسعوا الى ذکر اللہ وذروا البيع** ۔دلتہ نهى دکراہۍ د پارہ دہ ۔او قرينہ دادہ چى ممانعہ د يوہ باهرنئ خبرى دوجہ نہ دہ او هغہ د جمعہ مانځه لہ تلو کښى خلل واقع کيدل دى ۔نفس بيع کښى خرابى نشتہ ۔

کلہ نفى ارشادى وى يعنى شفقت پہ طور ممانعت کولہ شى لکہ: **ولا تسئلوا عن اشياء ان تبدلکم تسؤکم** (دداسى ځيزونو تپوس مہ کوئ کہ چرتہ هغہ تاسو تہ ښکارہ کړہ شى تو بہ پريشانہ کړى)دلتہ نهى ارشادى دہ خلق د پريشانئ نہ بچ کول دى ۔

يو ديرشم سبق

ما يتعلق بالامر د امر بارہ کښى څه خبرہ

۔کلہ چى د يو کار حکم وکړہ شى نو يوہ پيرہ کار کولو سرہ تابعدارى د امر موجود شى بار بار کول د امر مقتضىٰ ندہ ۔**مثلًا** اويئلہ شى چى اوبہ راکہ نو يوہ پيرہ اوبہ ورکولو سرہ بہ دحکم تعميل وشى ۔

نو **صلُّوا** چى مونځ وکئ نو مطلب دا دہ چى يوہ پيرہ مونځ وکئ ۔

سوال: چى کلہ امر تقاضا د تکرار نکوى نو بيا پہ عباداتو کښي تکرار ولى دہ؟

جواب:دا تکرار د اسبابو او اوقاتو د تکرار دوج□ ن□ د□ **مثلًا** دوجوب صلوٰ□ سبب وخت د□ لک□ چی د ماسپخین وخت شی نو امر ب□ متوج□ شی چی د ماسپخین مونځ وکئ ددی امر سر□ ب□ وجوب وی□

□د امر پ□ ذریع□ د واجب دو□ قسم□ دی□

ا□ادا□بعین□ امر سر□ واجب کیدونک□ ش□ حوال□ کول□

ب□قضا□امر سر□ د واجب شوئ شی مثل حوال□ کول□

بیا **ادا پ□ دو□ قسم□ د□ □ادا کامل□،ادا قاصر□**

1□ادا□ کامل بعین□ واجب کامل صفت سر□ حوال□ کول:لک□ وخت باندی باجماعت مونځ ادا کول□

حکم: ادا□ کامل سر□ ذم□ داری پ□ احسن وجه□ سر□ پور□ کیګی□

2□ادا□ قاصر:بعین□ واجب پ□ ناقص صفت سر□ ادا کول لک□: سور□ فاتح□ بغیر او تعدیل ارکان بغیر مونځ کول□

حکم: کچر□ پ□ مثل سر□ د صفت د نقصان کم□ پور□ کید□ شی نو کول□ ب□ شی ورن□ نقصان حکم ب□ ساقط شی او ګنا□ ب□ باقی شی□

تشریح: مثلًا سور□ فاتح□ تری هیر□ شو□ نو سجد□ سهو□ سر□ ب□ کم□ پور□ شی داددی شرعًا مثل د□ ،او ک□ تعدیل ارکان ن□ بغیر مونځ وکړی نو

مثل سر□ دهغ□ کم□ پور□ کول ممکن ندی ځکه چی شرعًا ددی مثل نشت□ پس کرا□□ تحریمی سر□ ب□ دهغ□ مونځ وشی او داسی مونځ کونک□ ب□ ګنا□ګار وی□

قضاء پ□ دو□ قسم□ د□ قضاء کامل او قضاء قاصر

قضاء کامل:هغ□ مثل حوال□ کول چی صور□ او معنیً د واجب پشان وی لک□:د فوت شوی مونځ قضاء□

قضاء قاصر:هغ□ مثل حوال□ کول چی صرف معنیً د واجب پشان وی لک□:د قضاء مونځ بعد الموت فدی□ ورکول□

فائد□ : عباداتو کښی اصل اداء د□ کامل وی ک□ ناقص□او چی ادا ممکن ن□ وی نو قضاء طرفت□ رجوع کیګی□

فائد□:قضاء کښی اصل قضاء کامل د□ او چی پ□ کامل عمل ممکن ن□ وی نو قاصر طرفت□ رجوع کیګی□

فائد□: د کوم شی چی مثل بلکل ن□ وی ن□ مثل صور□ ن□ معنیً نو پ□ هغ□ کښی قضاء واجب ند□ دهغ□ حکم د آخرت پ□ حوال□ د□□لک□:منافع ضائع کولو پ□ صور□ کښي ضمان واجب ند□ □

تشریح:چا د بل غلام غصب کړو او روغ□ میاشت خدمت واغستو ،یا مکان ئی غصب کړو او میاشت پکښی اؤسیدو بیا ئی غصب کرد□ ش□ مالک ت□

حواله کړو نو غاصب باندی د منافع ضمان واجب نده ځکه چی د مثل په ذریعه ئی ضمان ممکن نده۔ځکه څه شه د منفعت برابر نشته په دواړو کښی نه منفعت صوری شته او نه معنوی پس معامله به آخرت ته حواله شی۔

فائده: کله چی یو شه شریعه مماثل مقرر کړه وی او حال داده چی دواړو کښی نه صورته مماثله وی او نه معنیً نو دی ته مماثل شرعی وئیله شی لکه: نهایت بوډا سړی په حق کښی د روژو فدیه د روژو مثل ده۔

3۔د وخت دقید یا عدم قید په اعتبار د مامور به دره قسمه دی

ا۔وخت سره غیر مقید لکه: زکوٰة ،حج،صدقه فطر وغیره۔

حکم: پدی کښی د مامور به مطالبه فورًا نه وی د تاخیر ګنجائش وی پدی شرط چی تاخیر سره پوره زندګئ کښی عبادت پاتی نشی ۔البته اول فرصه کښی اداکول مستحب دی ۔

ب۔وخت سره مقید : دیته موقت هم وائی ددی دره قسمه دی ۔

الف۔ چی وخت د عباده د پاره ظرف وی لکه مونځ ۔د ظرف معنیٰ دا چی عبادت ټول وخت نه راګیروۍ بلکه د عبادت نه بعد هم وخت بچ وی۔

احکام:1□پور□ وخت پ□ عبادت کښی مشغولول ضروری ندی □

2□پ□ یو وخت کښی کچر□ یو عبادت واجب وی نو ددغ□ جنس بل عبادت پ□ دغ□ وخت کښی واجب کید□ شی دغ□ شان پ□ دغ□ وخت کښی ددغ□ جنس بل عبادت هم صحیح د□□دواړو کښی تضاد یا خلاف نشت□□لک□:یو سړ□ د ظهر وخت کښی د مونځ نذر وکړی نو صحیح د□ او پ□ ظهر وخت کښی ب□ دواړ□ مونځون□ وکړی□

دغ□ شان ک□ یو سړ□ د ظهر وخت کښی بل مونځ کوی نو صحیح د□□اگر چی د ظهر مونځ قضاء کولو گنا□ ب□ وی□

3□او د مامور ب□ ادائگئ دپار□ متعین نیت ضروری د□ یعنی د ظهر د مانځه نیت ضروری د□ تعین نیت ن□ بغیر ک□ پور□ وخت ئی مونځ کولو نو بیا ب□ هم ظهر ادا نوی دغ□ مونځ ب□ نفل شی اگر ک□ د مونځ وخت تنگ شی یعنی صرف د ظهر دفرضو وخت پاتی شی بیا هم تعین نیت ضروری د□□

ب: چی وخت د عبادت دپار□ معیار وی لک□ روژ□ یعنی عبادت پور□ وخت راگیر کړ□ د□ یو جزء تری خالی ن□ وی □

احکام:1□کچر□ یو عبادت دپار□ شریعت د وخت تعین کړ□ وی نو دغ□ وخت کښی بل عبادت واجب کید□ نشی □

2نہ پہ دغہ وخت بل عبادت ادا کیدہ شی ۔

3او دتعین شرط بہ هم ختم شی ځکہ چی شریعہ رمضان لرہ د فرض روژې دپارہ متعین کړی دہ۔نو وس نہ خو پہ رمضان کښي د نورو روژو نذر کوہ شی او نہ بلہ روژہ نیولہ شی ،او خاص د رمضان د روژې نیت کولو ضرورت هم نشتہ مطلق نیت سرہ بہ هم د رمضان روژہ صحیح شی ۔

4کچرہ حکم کؤونکہ حکیم وی نو مامور بہ کښی حسن موجودیدل ضروری دی یعنی **اللہ** تعالیٰ حکیم دہ پس هغوی چی کوم احکام نازل کړی دی پہ هغہ کښی حسن ضروری امر دہ۔

بیا مامور بہ د حسن پہ اعتبار سرہ پہ دوہ قسمہ دہ

1حسن لذاتہ یعنی بذات خود خکلہ خبرہ لکہ: **اللہ** تعالیٰ باندی ایمان راوړل ،د انعام کوؤنکی احسان منل ،انصاف،او مونځ،او دغہ شان نور عبادات۔

حکم: چی کلہ دداسی مامور بہ د ادائګئ وجوب راشی چی حسن لذاتہ وی نو دهغہ د ادائګئ نہ بغیر ذمہ نہ فارغیګیہ او دا خبرہ هغہ حکمونو کښی دہ چی د معاف کیدو احتمال نہ لری یعنی ختمیږی نہ لکہ: **اللہ** تعالیٰ باندی ایمان لرل پہ هرحال ضروری دہ حالت اکراہ وی یا جبر دا حکم ساقط کیګی نہ

او هغ□ احکام چی د معاف کیدو احتمال لری هغ□ ادائګئ سر□ هم ختمیګی او حکم ورکونکی معافئ سر□ هم □

تشریح:مثلًا اول وخت کښی مونځ واجب شو او ادائ□ کړو نو ختم شو ،او ک□ آخر کښی بند□ پاګل شو یا زنان□ باندی حیض یا نفاس شروع شو نو مونځ معاف شو ځکه داسی اعذارو کښی مونځ معاف کیګی□

او ک□ ځه وج□ باندی د مونځ وخت تنګ شی یا اوب□ یا لباس موجود ن□ وی نو معاف کیګی ن□□

ب□حسن لغیر□□: یعنی پ□ هغ□ کښی خپل□ ذاتی حسن ن□ وی خو بل امر حسن پ□ وج□ پکښی حسن پیدا شو□ وی لک□:د جمع□ د مونځ دپار□ سعی کول(تلل) او د مونځ دپار□ وضوء کول □

پ□ تللو(سعی) کښی خوبی د مونځ د جمع□ د وج□ د□ او پ□ وضوء کښی خوبی د مونځ دوج□ د□□

حکم:کچر□ هغ□ خبر□ چی د هغ□ پ□ وجه□ پ□ مامور ب□□ کښی حسن پیدا شو□ وی ختم شی نو مامور ب□□ ب□ هم ختم شی □

پس پ□ کومو خلقو چی جمع□ واجب ند□ نو سعی پری هم واجب ند□□

فائد□ :حدود ،قصاص او جهاد هم دی قسم ثانی ت□ نزد□ دی□ځکه چی حدود یعنی اسلامی سزاګانو کښ

خوبی پدی وج□ پیدا شو□ چی دی د ګناهونو ن□ لری کوؤنکی دی □او پ□ جهاد کښی خوبی پدی وج□ هم د□ چی دهغ□ سر□ دقتل سلسل□ بند□ شی او جهاد کښی خوبی پدی دوؤ وجهو سر□ هم د□□

1□پدی سر□ دکافرانو فتن□ کمزوری شی □

2□پدی سر□ د **الل□** کلم□ بلند□ شی او دین خور شی □

دو□ دیرشم سبق

دنهی بار□ کښی څه خبری

1□کچر□ ممانعت کؤونک□ حکیم وی نو منهی عنُ کښی ناکار□ وال□ ضروری د□،پس **الل□** تعالی حکیم د□ نو هغ□ چی د کومو خبرو ن□ منع فرفائیل□ د□ هغ□ ناکار□ خبر□ دی او دناکار والی د نوعیت پ□ اعتبارـ سر□ د منهی عنُ دو□ قسم□ دیُ

الف□قبیح لذات□□:هغ□ ش□ چی بذات خود ناکار□ وی ددی دو□ قسم□ دی □

